WWW.PILDAT.ORG

## بیك گروانډ پیپر



# باورکموته
# کړکیچنه اړکۀ پاکستان- افغانستان

پلډاټ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف
لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ
اینڈ ٹرانسپیرنسی

WWW.PILDAT.ORG

بیک گراوند پیپر



# باورکموته
# کړکیچنه اړکة پاکستان- افغانستان

پلڈاټ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف
لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ
اینڈ ٹرانسپیرینسی

پلډاټ یوه آزاده، بې پرې او د منافعې نه بغېرمنافع
د څېړنې او روزنې ځائي اداره ده چې مقصد ئې
پاکستان کښې جمهوریت او جمهوري اقدارو ته وده ورکول
او مضبوطول دي.

پلډاټ د سوسائټو د نوم لېکنې د پاکستاني قانون XXI
اتلس سوه شپېته تر لاندې د یوې غېر منافع بخش اکائې
په حېث رجسټر اداره ده

کاپي رائټ© پاکستان انسټي ټیوټ آف لېجسلېټیو
ډوېلپمنټ اېنډ ټرانسپرنسي پلډاټ
ټول حقونه محفوظ لري

پاکستان کښې چاپ شوې
خپور شوې: دسمبر دوه زره دولسم
ISBN: 978-969-558-297-5

د دې کتابچې نه که هره برخه څوك استعمالوي یا ئې
خپروي نو بايد چې د پلډاټ د ښکاره حوالې سره وي

لخوا خپره شوې

پاکستان انسټي ټیوټ آف لېجسلېټیو ډوېلپمنټ اېنډ
ټرانسپرنسي — پلډاټ
سردفتر: نمبر اووم، نائنت اېونیو، اېف اېټ ون، اسلام
آباد، پاکستان
د لاهور دفتر: پنځه څلوېښت اے، سېکټر XX دویم منزل،
فېز III کمرشل اېریا، ډي اېچ اے، لاهور
ټیلیفون: (+92-51) 111-123-345 فکس: (+92-51) 226-3078
برېښنالیک: info@pildat.org وېب: www.pildat.org

# فهرست

مختصر او مخففات

سريزه

ليکوال په اړه

پيژندگلو 08

د افغانستان او پاکستان ترمېنځه موجوده اړيکې 10

د پولې پورې ترهه گرى او د پاکستان - افغانستان له لورې د پولې 10
د ساتنې نظامى چارې

- د پاکستان – افغانستان او امريکه ترمېنځه درې اړخيزه لوظنامې 10

- گډه کړنلاره 11

- د پوله ايزو چارو د رابطو مرکزونه 11

- درې اړخيزه کميسون 11

- د پوله ايزو چارو همغږۍ لړ کښې درې اړخيزه ميکانزم 11

- د افغانستان – پاکستان ترمېنځه ستراتيجکى پارټنرشپ لوظنامه 12

- اقتصادى بشپړونه ، پائپ لا ئن او د تجارت مواقعې 13

- د افغان کډوالو بېرته تگ 14

- اوبو موضوعات 14

د پاکستان او افغانستان د اړيکو راتلونکے :اوسنۍ او ورستو 16
له کال دوه زره څوارلس

د پارليمانى غړو کردار 17

وړاندې تلل 19

# مختصر او مخففات

| | |
|---|---|
| CARs | د مینځنۍ اسیائی ریاستونه |
| EU | اروپائی ټولنه |
| FATA | د مرکز انتظام لاندې قبائلی سیمې |
| ISAF | ایتلافی ځواکونه |
| PAJ CCI | د پاکستان او افغانستان د صنعت او تجارت ګډ چیمبر |
| PTV | پاکستان ټیلی ویژن |
| SAFRAN | ریاستونه او پوله ایزې سیمې |
| SPA | ستراتیجکی پارټنر شپ لوظنامه |
| TPC | درې اړخیزه کمیسون |
| UAE | متحده عرب امارات |
| UNHCR | د ملګری ملتونو د کډوالو لپاره عالی کمیشنری |

# دیباچه

د باور کموښت او پاکستان – افغانستان نه پرې کیدونکی اړیکې پر نامه د پس منظر پاڼه د پلډیټ له لوری ترتیب کړے شوی چې د پاکستان – افغانستان د پارلیمانی غړیو ترمېنځه د خبرو اترو اووم دور په نېټه یوولسم دسمبر کال دوه زره دولس چې د پلډیټ او پاکستان د قامی اسمبلۍ د پاک افغان پارلیمانی دوستۍ ډلې په اشتراک ترتیب شوے لپاره د یو پس منظر د پاڼې حیثیت ولری

د پس منظر دا پاڼه ښاغلی حسن خان چې د ډان پر نامه د ورځپاڼې کالم نګار دے لیکلې ده

دې پاڼه کښې هغه عوامل په ډاګه کړے شوی کوم چې د پاکستان او افغانستان ترمېنځه د بې باورۍ سبب ګرځی او څنګه بې باوری له مېنځه تلے شی او پکښې د پارلیمانی غړو د کردار اهمیت هم په ګوته شوے چې څرنګې دوی شته کړکیچن حالات او بې باوری له مېنځه یوسی او دا رنګې د دواړو هېوادونو ترمېنځه د ښه ګاونډیو په شان اړیکې ولرلې شی

د یو خپلواکه تهنک ټینک په حیث پلډیټ باور لری چې د مذاکراتو لپاره په سفارتی کچ اړیکو ته دوام ورکولو سره سره د دواړو هېوادونو پارلیمانی غړو ته هم دواړه اړخ ته آسانتیاوې برابرول پکار دی چې دا رنګې د شخړو هواری او خپل مینځی رابطو ته وده ورکړی کوم چې په سفارتی کچ هم شخړو هوارولو ته لاره سمه کړی او هم په دې مخه پلډیټ د پارلیمانی غړو د خبرو اترو دا دور ترتیب کړے دے

بې واکی

د لیکوال خیالات رائے نتیجې یا سپارښتنه چې په دې پاڼه کښې ظاهر کړے شوی ضروری نه ده چې دا د پلډیټ د خیالاتو ، د پاکستان – افغانستان د پارلیمانی دوستۍ ګروپ او د پاکستان د قامی اسمبلۍ د خیالاتو عکاسی وکړی

اسلام آباد

دسمبر کال دوه زره دولس

# د لیکوال په اړه



ښاغلے حسن خان موجوده وخت کښې د ډان ورځپاڼې سره د یو کالم نګار په حیث کار کوی

حسن خان د پاکستان د پښتنو په پټی لکه خېبر پښتونخوا او قبائلی سیمو او افغانستان کښې د ترهه ګرۍ ، سیکیورټۍ ، امن ، په عمومی شخړو او اولسی ستونزو په چارو پوهه لری

وړاندې له دې څخه ښاغلے د خېبر نیوز د خبری او روانو چارو د څانګې د ډائریکټر پاتې شوے چرته چې ئې د ملکونو د مشرانو چې پکښې پخوانے اولسمشر پرویز مشرف او افغان اولسمشر حامد کرزی انټرویوز شامل دی

هغه یواځنې پاکستانے ژورنالست دے چې افغان اولسمشر حامد کرزی سره ئې درې وارې په اسلام آباد او کابل کښې انټرویو کړېده

دهٔ د برطانیې بهرنیو چارو سیکټر جیک سټرا ، د امریکې نائب سیکټر او مرستیال سیکټر سره څو څو وارې ځانګړې مرکې کړی دی

د دې تر څنګ هغه د امریکې اروپائی ټولنې د متحده عرب اماراتو د سفیرانو سره سره د پاکستان او افغانستان ستر مشرانو سره هم مرکې کړی دی

ښاغلے حسن خان د نیوز انټرنیشنل پېښور سره هم د سټاف رپورټر په توګه په باقاعده ډول د ورځپاڼې سیاسی رسالې ته لیکل کړی دی

وړاندې له دې هغه د انګریزۍ ورځپاڼې فرنټیئر پوسټ پېښور سره د یو رپورټر په حیث کار کړے او کال دوه زره یو نه څلور پورې د پاکستان ټیلی ویژن لپاره ئې په سماجی او سیاسی پروګرامونو کښې کوربه توب کړېدے

د حسن خان په نړیوال سفرونو کښې بېلا بېلو دستورو کښې د ګډون لپاره جرمنی ، هند ، افغانستان ته سفرونه شامل دی

هغه د سیکیورټۍ افغان مسئلو د ترهه ګرۍ په ضد جنګ او د قبائلی چارو په اړه د مهم فورمز غړیتوب هم لری او دې نه علاوه په امریکه کښې د مهمو ادارو دورې د هغه خیال او فکر له وسیع کړے دے

هغه په باقاعده ډول د بېلا بېلو تهنک ټینک د لوری په مختلفو موضوعاتو د خبرو لپاره رابللے کیږی

## پېژندګلو

د پاکستان او افغانستان ترمېنځه حکومتی کچ اړیکې نه خو د ملګرتیا دی او نه د ورورلۍ- په تاریخی توګه د کابل او اسلام آباد ترمېنځه اړیکې غیر یقینی ، غیر مستقل او د پولې له بلې لخوا د ترهه ګرۍ او تشدد په پېښو بنیاد لری

په دې ورستیو کښې چې کوم پرمختګ ، او په لوړه کچه ملاقاتونه شوی ، په دې کښې هیڅ شک نیشته چې د دواړو هېوادونو په یو بل باور کولو ته ئې زمینه برابره کړې او دواړه هېوادونه ئې یو تر بل نزدې راوستی دی

کال دوه زره څوارلس پورې د نړیوالو ځواکونو د افغانستان څخه د وتلو اعلان په دواړو سربشارونو فشار راوستې چې د نړۍ په نظر کښې خپل مینځی غیر مستحکم او غیر یقینی اړیکې راولی

د نړیوالې ورورولۍ لپاره د پاکستان او افغانستان ترمېنځه بې باوری په خاصه توګه

تر کال دوه زره څوارلس رارسیدو د فکر وړ ده تر څو چې نړیوال ځواکونه له افغانستان څخه ووځی او د افغانستان ملی اُردو ته واک وسپاری

کیدې شی چې د نړیوال فشار لاندې یا دننه د امنیت یقینی کولو د خاطره د پاکستان په افغان پالیسۍ کښې ځینې غټ بدلونونه د اسلام آباد په خپل دریځ کښې نرمی ته اشاره کوی تر څو ئې د افغانستان طالبانو سره روغې جوړې عمل ملاتړ کړے

د پاکستان په افغانستان کښې د متنازعه پالیسی ،، ستراتیجکی ژوروالی ،، نه تیریدل او د یو باثباته دولت مرسته کول ، خپل تاریخی دریځ پریښودل او په کابل د یو دوستانه حکومت غوښتل په افغان پالیسۍ کښې یو مثبت بدلون دے

د افغانستان دولت طالبانو سره د روغې جوړې عمل کښې کامیابی تر لاسه کولو کښې د افغان سولې د عالی شوری د غوښتنو په جواب کښې د پاکستان له لورې ځینې طالبان مشرانو خوشې کول او ځینې نورو خوشې کولو ته غاړه کیښودل د اسلام آباد له لورې د خېر سګالۍ اشاره ده کوم نه چې په دې ټول عمل کښې د اسلام آباد سنجیدګی ظاهریږی

که چرې د کابل او اسلام آباد ترمېنځه د ښه والی په لور پرمختګ هم په دې رفتار روان وی نو بیا په دې لړ کښې هیڅ شک نیشته چې د دواړو هېوادونو چې نه پرې کیدونکی اړیکې لری ترمېنځه بې باورۍ کښې کمے راولی

د اوږدې مودې راهیسې دواړه هېوادونه د تشدد او ترهه ګرۍ د پېښو ښکار دی

د تازه سروے ترمخه پاکستان په دویم او افغانستان په دریم لمبر دے د نړۍ په هغه ملکونو کښې چې د تشدد او ترهه ګرۍ سره مخ دی

په ځائي د دې چې دواړه هېوادونه په ګډه د موتړی برابر دغه عناصر په ضد کاروائی وکړی ، پاکستان او افغانستان په یو بل د وسله والو د ملاتړ تورونه لګوی

د سویت یونین خلاف د جهاد لسیزه کښې د پوره مرستې باوجود د دواړو ملکونو مشران

د بغاوت په دوام کښې په کردار یو بل ته د شک په نظر ګوری او د پولې پورې څخه ئې تشدد او د ترهه ګرۍ کاروائیو ته دوام ورکړے

چرته چې د نړیوالو جنګی پوځونو د وتو خبره کیږی او په کلیوالو او نیم ښاریو علاقو کښې د طالبانو اثر رسوخ سېوا کیږی کوم چې د ملک د امنیت لپاره ګواښ ګرځی هلته د پاکستان ذکر ډیر ضروری دے

پاکستان او افغانستان د نړۍ یواځینې هېوادونه دی چې ترمینځه ئې روزانه په زرګونو خلق بغیر د ځانګړی سفری دستاویزاتو سفرونه کوی- د دولتی سرچینو ترمخه یواځې په طورخم اوسطًا د سلو نه پینځویشت زره پورې خلق روزانه بارډر کراس کوی چې پکښې په مشکله څو سوه کسان سفری دستاویزات لری-

دغه رنګې په زرګونو نور د چمن ، غلام خان او انګور اډه او ځینې پکښې کله کله د کُرمې ، تیراه ، مومندو ، باجوړ ، دیر او چترال دلارې ځینې بغیر د شناخت چیک کولو-

د خلقو په دومره غټه شمیره کښې د دواړو هېوادونو ترمېنځه د یو نړیوال بارډر څخه تیریدل د دوستانه او مستحکم تعلقاتو د جوړښت لپاره بنیادونه سازولو مثال نیشته

ولې د دې باوجود چې کله پاکستان په وجود کښې راغلے نو کابل او اسلام آباد د یو بل دښمنان دی-

دواړه هېوادونه په خپل تاریخ کښې نښتی دی – ملګری ملتونو کښې د پاکستان مرستې کولو کښې افغانستان نازړهٔ والے – شپږ لسیزه وړاندې نه د پاکستان د پښتنو سیمې خپلې ګڼل او

دا رنګې د ډیورنډ کرښه یو نړیوال بارډر نه تسلیمول د پاکستان اسټیبلشمنټ ته جوا پیدا کوی چې کله موقع په لاس ورشی او کابل غیر مستحکم کړی

د طورخم نه مزار شریف ته د سړک دلارې سفر دوران د افغان تاجرانو ، پارلیمان غړیو ، سیاسی کامندانو ، جهادی کمانډرانو او عام خلقو سره د خبرو اترو پته ولګی چې افغان فکر کوی افغانستان کښې د تباهۍ ذمه وار پاکستان دے او د ټولو نه د بدقسمتۍ خبره دا ده چې سیاسی قیادت د نسلی تقسیم په بنیاد د پاکستان مخالفه ډلې چې د هر څهٔ لپاره په پاکستان تور لګوی د خپلو سیاسی ، نسلی او ټولنې ګټو لپاره د افغانستان هر تکلیف ذمه وار پاکستان ګرځوی

## د پاکستان او افغانستان ترمېنځه اوسنۍ اړیکي

### د پولې پورې نه ترهه ګری او د پولې د ساتنې نظامی چارې

د پاکستان او افغانستان ترمېنځه دوه اړخیزه اړیکې تل د پولې بل اړخ نه د تشدد یا ترهه ګرۍ یوه پېښه هم ټول مشق خرابولے شی ـ د ځینو مشرانو طالبانو د خوشې کولو په غوښتنه پاکستان افغانستان ته باغی طالبانو ته رساهۍ کښې رضامندی وښودله نو بل خوا هم په دغه وخت د پاکستان داخله وزیر رحمان ملک د افغانستان اولسمشر حامد کرزۍ خلاف ډیره سخته ژبه استعمال کړه او وئې وئیل چې هغه د پاکستان خلاف وسله والو سره افغانستان کښې مرسته کوی

### پاکستان په افغان دولت تور لګوی چې د ملا فضل الله په مشرۍ کښې د پاکستان خلاف

وسله وال او ځینې بلوچ باغیانو ته ئې پناه ورکړېده ولې د بلې لورې افغانستان او نړیواله ټولنه د چا پوځونه چې د طالبانو سره جنګیږی په پاکستان تور لګوی چې باغیانو طالبانو ته ئې پناه ځایونه ورکړی او حقانی نیټ ورک ته په افغانستان کښې حملو کولو کښې مرستې کوی

افغان اولسمشر تر دې چې په خپله خاوره د طالبانو سره د جنګیدو د امریکا په پالیسی هم نیوکې کوی او ځو ځو وارې ئې نړیوالې ټولنې ته د پاکستان په لور اشارتًا وئیلی چې د پولې پورې اړخ ته دې د

### طالبانو په سنګرونو او تربیتی کیمپونو حملې وکړی

پاکستان په دې بهانه پولې ته نزدې د افغانسنتان کلی د ارټلری شیل فائر کولو دلارې په نښه کوی چې د وسله والو سنګرونه ئې په نښه کړل چې ورسره د کابل اړیکې نورې کړیکچ لوئیږی دغه رنګې د افغانستان ځواکونه هم د ارټلری شیل ویشتو او نورې درنې وسلې سره د پاکستان په خاوره کاروائی کوی چې پکښې عامو وګړو او امنیتی سرتیرو ته مرګ ژوبلې اوړیدلی دی

د نیو میډیا جرنل د تازه راپور ترمخه تیرو ځو میاشتو کښې د طالبانو او د هغوی پلویانو وسله والو ډلو په شمال مشرقی افغانستان او شمال مغربی پاکستان کښې حملې سېوا کړی دی

دغه حملې زیاتره د افغانستان او پاکستان طالبان د القاعدې او لشکر طیبه په رنګې د ډلو په مرسته د پولې بل اړخ شورو کړے شوی دی

دا ټولې خامۍ د بارډر سره رامخې ته کیږی سره د دې چې یو شمیر دواړخیزه ، درې اړخیزه تفاهم او پلیټ فامز پکار راویستلے شوی دی او ټول سټیک هولډرز په باهمی هم اهنګۍ سره په مختلفو فورمز کښې ناسته کړې چې د پولې بل اړخ څخه د مداخلت مخه ونیسی

### د پاکستان ـ افغانستان او امریکا ترمېنځه درې اړخیزه لوظنامه

د وسله والو طالبانو له لوري په حملو کښې د تیزۍ سره د پاکستان او افغانستان ترمېنځه اړیکو کښې د تریخوالی رامینځته کیدو ورستو د دواړو هېوادونو ترمېنځه د ټینشن کمولو او هر یو هېواد ته د بغاوت ختمون باندې خپله توجه مرکوز کولو لپاره امریکا رامخې ته شوه او د امریکا حکومت په دې کښې کامیاب شو چې اسلام آباد ، کابل او واشنګټن یوه درې اړخیزه لوظنامه ولری تر څو د افغان شخړې یو پُرامنه حل د پولې بل اړخ نه مداخلت او پوله ایزه سیمو کښې د ترهه ګرۍ مخه ونیسی

د دې درږې اړخیزه لوظنامې لاندې د دریو واړو هېوادونو چارواکی په باقاعده او مسلسل ډول ملاقاتونه کوی او په هغه موضوعاتو چې د یو بل سره په ناپوهۍ کښې د کړکیچ سبب ګرځی باندې خبرې کوی

## ګډه کړنلاره

په کال دوه زره نهه کښې چې د پاکستان او افغانستان ترمېنځه ټینشن سېوا شو نو د امریکا په مرسته یو پلان ، منصوبه وټاکل شوه چې ورته جوائنټ ایکشن پلان یعنی ګډه کړنلاره وئیلے کیږی چې مقصد ئې د ترهه ګرۍ د پېښو مخ نیوی ، د نشه ای توکو مخ نیوی او د پولو د ساتنې غوره نظام جوړولو  لپاره په ګډه مبارزه کول دی

## د پوله ایزه چارو د همغږۍ مرکزونه

د دواړو هېوادونو ترمېنځۀ په پوله د پاکستان ، افغانستان او ایساف په مرسته شپږ د پولو د رابطو مرکزونه پرانستل شوی چې د دریو څواکونو افسران ئې د روزانه په بنیاد له یو بل سره په نزدې رابطه کوی تر څو د پولې شاؤخوا د ترهه ګرۍ په ضد جنګ موثره شی-

د روزانه په بنیاد ملاقاتونو سره به دغه امکان چې که په دواړو هېوادونو کښې د وسله والو په ضد عملیات روان وی او وسله وال د بچ کیدو په غرض د پولې بل اړخ ته اوړې ختم شی

## درې اړخیزه کمیسون

په پوله د رابطو نظام کښې پرمختګ ورستو د پاکستان ، افغانستان او ایساف د مشرانو

درې اړخیزه کمیسون جوړښت ډیر مهم دے – د کمیسون د مشرانو ترمېنځۀ په مسلسل ډول ملاقاتونو کښې د مشورو سره سره د طالبانو او پاکستانی عسکریت خوښو په ضد مبارزه باندې خبرې کیږی

دې درې اړخیزه کمیسون کښې ښه په آزادۍ سره په موضوعاتو خبرې کیږی او په وخت د ضرورت په نوؤ پالیسو هم غور کیږی

## د پوله ایزه چارو درې اړخیزه میکانزم

د افغانستان دفاع وزارت کابل کښې روان کال د نومبر میاشت کښې د درې اړخیزه کمیسون شپږ دیرشمه غونډه کښې د پاکستان مشرانو د افغانستان او ایساف ځواکونو سره د پوله ایزه چارو درې اړخیزه میکانزم پر نامه یو مهم دستاویز

لاس لیک کړو چې مقصد ئې د پوله ایزه چارو همغږۍ نوره ښه کول دي

د دریو خواؤ د پولې دواړه اړخ ته د امن او استحکام یقیني جوړولو لپاره له یو بل سره همکاري څرګنده کړې شوه

د دې میکانزم مقصد پاک افغان پولې ته توجه ورکول او په اپریشنل سطح له یو بل سره همکاریو ته وده ورکړل شي ولې په اعلی کچ د خبرو لپاره د دې فورمز او مواقع شتون باوجود تراوسه افغانستان ، پاکستان او امریکا په دې ونه توانیدل چې د اسلامي انتهاخوښو چې خپل بېل بېل ترجیحات لري د پولې تر څنګ ورله د فعالیت مخه ونیسي

د پولې بل اړخ نه د تشدد او ترهه ګرۍ پېښې اوس هم د دواړو هېوادونو اړیکې اغیزمنې کولو سبب ګرځی

## د پاکستان او افغانستان ترمېنځه د ستراتیجکی پارټنرشپ لوظنامه

ستراتیجکی پارټنرشپ لوظنامه د پاکستان او افغنستان اړیکو کښې مهم نیشتوالے دے – سره د دې چې دواړه هېوادونه په یو بل انحصار کوي ولې د دواړو هېوادونو ترمېنځه تفاهم دغې کچ ته لا ونه رسیدو چې ستراتیجکی پارټنرشپ لوظنامه لاس لیک کړي

کابل د وړاندې څخه د یو شمیر هېوادونو لکه امریکه ، هند ، آسټریلیا ، جرمنی او برطانیې سره اوږد مهاله ستراتیجکی پارټنرشپ لوظنامې لاس لیک کړی ولې لکه د وړاندې په شان کابل د پاکستان سره دې لوظنامه باندې لاس لیک لپاره د طالبانو د خوشې کولو په شکل کښې شرطونه ایښی دي

افغانستان کښې په دې لوظنامه د تحفظاتو او نیوکو په نظر کښې دا لوظنامه مهمه په دې ده چې د دې لاندې هغوی د پاکستان نه د پرامنه او باثباته افغانستان په مرسته کښې په عملی ډول د مظاهرې غوښتنه کولے شي- د دې مطلب دا شو چې کابل کیدے شي پاکستان یو ورور هېواد ومنی نه چې یو ملګرے هېواد افغانستان پاکستان ته د شک په نظر ګوری او په دې لوظنامه کښې ورته د پاکستان غیر معمولی ګټې ښکاری نو په نتیجه کښې ئې پاکستان هم په افغانستان کښې د هند اثر رسوخ په مقابله سوچ کولے شی څوک چې د وړاندې نه د افغانستان د ستراتیجکی پارټنرشپ لوظنامه لري-

د پاکستان او افغانستان ترمېنځه د ستراتیجکی پارټنرشپ تړون که لاس لیک کړے شو نو د دواړو هېوادونو په اړیکو به ډیر ژور اثر ولري تر څو یو داسې فورم او فریم ورک برابر کړے شي چې دواړه هېوادونه له یو بل څخه کومې غوښتنې لري په آسانۍ سره ئې له یو بل کولې شي-

په دې ورستیو کښې څۀ لږ پرمختګ په لیدو کښې راغلے کله چې د پاکستان خارجه وزیرې حنا رباني کهر خپل افغان هم منصب ډاکټر زلمے رسول ته د ستراتیجکی پارټنرشپ لوظنامې یو ډرافټ وړاندې کړو

## معاشي باثباتی بښ، پائپ لا ئن او د تجارت مواقع

افغانستان یو لینډلاک یعنی هغه هېواد دے چې کومه سمندری لاره له بل یو هېواد سره نه لری د شپږو هېوادونو سره پولې لری – پاکستان پکښې ځانګړے پوزیشن په دې لری چې دې کولے شی خپل جوړ کړے شوی مصنوعات تر افغانستان مارکیټونو ته ورسوی

افغانستان په لویه کچه د خوراکی څیزونو ، پېټرولیم مصنوعاتو ، د آمروزه ژوند ځیزونه ، سیمټو ، وسپنې ، لرګی ، پینټ ، شیشه او دا رنګې نور د عمارتو جوړولو د سامانونو په درآمداتو انحصار لری

په لکونو افغانان داسې دی چې د کډوالو په صورت کښې ئې په لسیزو پاکستان کښې وخت تیري کړے او د پاکستان مصنوعاتو سره اموخته شوی دی – ظاهره خبره ده هغوی به ترجیح هم د پاکستان مصنوعاتو ته ورکوی-

د کابل پژواک خبری اژانس چې د کابل او نورو غټو ښارونو د مارکیټونو هفته واره سروے کوی وائی چې اتیا فیصده خوراکی او تعمیراتی څیزونه د افغانستان په مارکیټونو کښې د پاکستان وی

ښاغلے زبیر موتیواله چې د پاکستان افغانستان د تجارت او صنعتونو د ګډ چیمبر صدر دے د یاد چیمبر لومړیٔ غونډې ته ووئیل چې د پاکستان او افغانستان ترمېنځه تجارتی تړون ګنجائش لری چې حجم ئې د درې بېلیونه ډالرو نه شپږ بېلیونه ډالرو ته په راتلونکی درې کاله کښې ورسی

غیرسرکاری تجارت چې کوم د دواړو هېوادونو ترمېنځه کیږی د دوه برابره نه هم سېوا دے د هغه تجارت نه کوم چې په سرکاری او کاغذونو کښې ښودل کیږی

که چرې د دواړو هېوادونو ترمېنځه تجارت ته عملی شکل ورکړے شو نو کولے شو چې لا ډیر محصولات ترې لاس ته راشی ولې د تجارت په برخه کښې د منطقې امنیت لازمی دے چې په منطقه کښې قلاری وی نو د تجارت او سرمایه کارئ مواقع به په لاس راځی – په تاریخی ډول هم افغانستان او پاکستان ایشیا، مینځنئ ایشیاء او اروپائی هېوادونو ته د تجارت لارې لری

افغانستان کولے شی چې پاکستانی برآمداتو ته تر مینځنئ ایشیائی هېوادونو او مشرقی اروپائی هېوادونو مارکیټونو ته د رساهئ لپاره لاره ورکړی – دغه رنګې پاکستان هم افغانستان ته خپل سامان د هند مارکیټونو سره سره د پاکستان بندرګاه په استعمال د نړئ نورو ملکونو ته رسائی ورکړی

د افغانستان نه علاوه د مینځنئ ایشیائی ریاستونو یو غټ مارکیټ شتون لری کوم ته چې د پاکستان مصنوعات لا نه دې رسیدلی

پاکستان د مینځنئ ایشیائی ملکونو نه په ارزانه بیعه بجلی ، تیل او ګیس هم د افغانستان دلارې په پائپ لا ئنز او ټرانسمیشن لا ئنز کښې اخیستلے شی ولې

د پاکستان افغانستان او د مینځنۍ ایشیائی ملکونو ترمېنځه د تجارت مخه په منطقه کښې ناامنۍ او غیر استحکام نیولې ده

پاکستان د وړاندې نه د تاجکستان ، افغانستان او پاکستان د بجلۍ په ټرانسمیشن لا ئن، پاك افغان ټرانزټ ټریډ تر ایشیائی ملکونو او هند غزولو ، د پاکستان او افغانستان ترمېنځه د مفت تجارت لوظنامې د پاکستان افغانستان ترمېنځه سرمایه کارۍ ته د تحفظ لوظنامې او افغانستان ته د نورو تجارتی لارو پرانستو باندې کار کړېدے

## د افغان کډوالو بېرته تګ

کال نولس سوه اتیا کښې د سویت یونین په افغانستان کښې د جګړې دوران شاؤخوا پېنځه میلیونه افغان کډوالو پاکستان ته کډې وکړې او د دوه میلیونه نه سېوا اوس هم په پاکستان کښې وسیږی

دسمبر کال دوه زره دولس پورې یو اعشاریه اووۀ میلیونه افغانان په پاکستان کښې په قانونی توګه میشته دی او تقریبًا یو ملین په غیر قانونی توګه میشته دی

تقریبًا اوویا فیصده افغانان د تیرو دیرشو کالو دوران په پاکستان کښې پیدا شوی او لوئے شوی لیکن هغوی تراوسه ځان افغانان ګڼی-

پاکستان د خپلو افغان کډوالو وروڼو ښه په نره میلمستیا کړې او د خپلو وسیدونکو په رنګ ئې ورته کتلی ، نه ئې د تیرو دیرشو کالو دوران په ملک کښې په تګ راتګ څۀ قسمه بندیز لګولے شوېدے

په نړۍ کښې داسې مثال نیشته چې په دومره غټه شمیره کښې کډوال په یو ملک کښې د یوې اوږدې مودې لپاره په آرام وخت تیر کړی ولې د امنیت د مسئلو او د پاکستان په کمزوری معیشت د بوجھ جوړیدو له وجې اسلام آباد زور راوړی چې د کال دوه زره دولس تر ختمون به د یو این ایچ سی آر سره لوظنامه ختمه شی او افغان کډوال دې بېرته لاړ شی

## د اوبو مسئله

یو حَل چې د افغانستان شخړه هواره شی نو کیدے شی چې د اوبو مسئله هم د دواړو هېوادونو د یو بل ترمېنځه په غټو موضوعاتو کښې یو موضوع جوړه شی – د پاکستان یو غټ سیند دریائے سندھ چې د افغانستان مشرقی سیمې ننګرهار او کونړ ولایتونو څخه راځی-

اګر چې دواړه هېوادونه له یو بل سره د اوبو ذخیرې شریکوی ولې د اوبو کومه لوظنامه نه لری

په افغانانو کښې دا سوچ مخ په زیاتیدو دے چې پاکستان په دریائے کابل د وړوکی یا غټ بجلی ګھر یا ډیم جوړیدو مخه نیسی یا دغه رنګې د افغانستان مشرقی برخه کونړ کښې په ډیم جوړیدو هم د پاکستان دولتی حلقے زوروی-

پاکستان هم په دې ویره کښې دے کۀ افغانستان کښې امن او قلارے راغے نو کابل به دریائے کابل او دریائے کونړ باندې ډیمونه جوړوی – بجلی ګھرې به پرې لګوی یا د اوبه خور لپاره به ئې استعمالوی

د دواړو هېوادونو ترمېنځه د ځینو نورو
ګرمو موضوعاتو په مقابله کښې حاضر
وخت د اوبو مسئله یو طرفته پرته ده ـ نه
د افغانستان دولت یا سیاسی قیادت د اوبو
په مسئله څه زور راوړے کومې چې د
افغانستان نه پاکستان ته راځی-

ولې په عمومی ډول افغانان د اوبو مسئله د
پاکستان ګڼی کوم چې د یوې لوظنامې د نه
موجودګۍ ته نتیجه کښې لا صحیح ده -
ولې په راتلونکی کښې به د دواړو
هېوادونو ترمېنځه د اوبو شخړه ضرور
پورته کوی او پاکستان به ترې زیان په دې
وی چې اوبو د افغانستان نه پاکستان ته
راځی نو افغانستان به د اوبو په استعمال
حق ډیر لری-

## د افغانستان او پاکستان د تعلقاتو راتلونکے – اوس او د کال دوه زره څوارلس ورستو

په دې کښې هيڅ شک نيشته چې په دې ورستيو کښې د کابل او اسلام آباد ترمېنځه د باور فضا مينځته راتلو سره د دواړو هېوادونو په اړيکو کښې ښه والے راغلے – د دواړو هېوادونو مشرانو له به اوس پکار وی چې دا حقيقت تسليم کړی چې خطرے ته د امن راوستو ټولې ذمه وارئ د کابل او اسلام آباد په اوږه دی – په خاصه توګه د کال دوه زره څوارلس او ورستو چې کله بهرنی ځواکونه د افغانستان څخه ووځی-

اسلام آباد له د يو ذمه واره پوزيشن لرلو په حيث پکار ده چې د افغانستان شخړې ختمون لپاره په سپين نيتئ سره هلې ځلې وکړی او کال دوه زره څوارلس کښې په ټاکنو کښې د مرستې ترڅنګ کابل يو ډيموکريټک دولت جوړ کړے شی او د دې قدم سره به يقيناً چې په افغانانو کښې په پاکستان د باور او خېرسګالئ فکر پيدا شی-

کال دوه زره څوارلس کښې د شيډول ترمخه انخلاء او ټاکنې د افغانستان ژوند ګڼلې شی – کامیابی ټاکنې او پرامنه انخلاء او بدلون په معنی افغانستان کښې د نورو ځلورو نه پينځه کاله پورې د بهرنيانو په ډيره کمه شميره کښې د يو غير جنګی ځواکونو په شکل کښې پاتې کيدل دی – کابل کښې يو پائيداره او د اولسونو نمائنده حکومت به د دې جوګه وی چې د طالبانو سره د روغې جوړې عمل کښې ښه ونډه او اثر ولری او ځينې نورې معاملې به هم په خپلواکه او پر اعتماد انداز کښې ترسره کړی

که چرې د تصادم لاره خپله کړے شوه او د طالبانو په شتون سترګې پټې کړې شوې نو يقيناً چې پاکستان به يو د انتشار ملک افغانستان ووينی چې به د ټولو دښمن او د هيڅ چا دوست نه وی-

کال دوه زره ديارلس د پاکستان لپاره يو غوره کال ګڼلې کيدے شی – اسلام آباد ته به خپل هېواد پرامنه جوړولو کښې د افغانانو مرسته کول وی چې هغوی د امن مذاکراتو لپاره باغيان طالبان د خبرو ميز ته راولی او دا به په کابل کښې د يو دوست او مستحکم حکومت لپاره ضروری وی-

ولې دا به هم هوښياری نه وی چې افغانستان کښې د امن راوستو ټولې ذمه وارئ په اسلام آباد پريښودلے شی- د تيرې لسيزې راهيسې چې افغانان د کوم اذيت نه تيرېږی د دې هر څۀ ذمه وار يواځې اسلام آباد ګرځول مناسب نه ده-

لومړے د افغان حکومت او سياسی قيادت به بغير د څۀ نسلی مفاداتو په سپين نيتئ سره د اسلام آباد سره د پولې بل اړخ نه مداخلت ، منفی پروپيګنډا ختمولو سره سره د کابل حکومت ناکامئ لپاره اسلام آباد ګناه کار ګرځول او دغه رنګې هېواد کښې د امنيت ټوله پېره په نړيوالو ځواکونو اچول پريښودل وی-

کابل له به د هند سره په اړيکو قائمولو کښې د اختياط نه کار اخيستل وی چې په نظر کښې د پاکستان او هند ترمېنځه د اړيکو حساسيت وساتلے شی- پاکستان له ظاهره خبره ده چې خپل سالميت ته مستقله خطره ليدل قبول نه وی او پاکستان به د هند پشمول د هند په حمايتی ملکونو هم نظر ساتل وی-

افغان دولت او امريکه ته په خپله پاليسیٔ نظرثانی پکار ده ولې چې د تيرې لسيزې دوران کومې غلطیٔ شوی که هغه د ناامنیٔ ، لوټ مار ، حالات د قابو نه بهر کيدل او د نسلونو ترمېنځۀ د نفرت په شکل کښې وی کوم چې د هېواد لپاره يو غټ ګواښ دے ونه کړے شی-

د طالبانو دور حکومت ختميدو ورستو د غربی نړیٔ او نړيوالو حمايتی ملکونو په زور جوړ شوے د کابل حکومت پاتې راغلے چې خپلو خلقو ته تحفظ ورکړی او ورته معاشی پرمختګ ورکړی-

د ملک په ځينو برخو کښې په خاصه توګه شمالی برخه کښې حالت قدرے ښه دے ولې په زياتره برخو لکه جنوبی او مشرقی برخو کښې خلقو څه ښه امنيتی وضعه يا ترقياتی منصوبه نه ده ليدلې-

## د پارليمانی غړيو کردار

په يوه ډيموکراټيکی معاشره کښې منتخب شوی نمائندګان د ملک په پاليسو کښې د حکومت په چلولو او د وولسونو نمائندګی کولو کښې ونډه لری- د پاکستان او افغانستان په نه پرې کيدونکی اړيکو کښې د بې باوریٔ له مينځه وړلو کښې زياتره ذمه واریٔ د ټاکل شوی نمائندګانو په اوږو پريوځی – تيرو لسو کالو دوران د پاکستان او افغانستان د ملی پارليمانونو د پاک افغان شخړې هواری او دا رنګې د پوله ايزه شخړو هواری کوم د ستائنې وړ کردار نه دے پاتې شوے – په کابل او اسلام آباد کښې ټاکل شوی نمائندګان فکر کوی چې د پاکستان افغانستان شخړه هوارول د دوی کار نه بلکې د پوځونو کار دے

سيمه ايز امنيت او استحکام تر ټولو مهمه موضوع ده د کوم د حل لپاره چې د دواړو هېوادونو پارليمانونو له په دې کښې شامليدل پکار دی – د پارليمانونو له په دې کښې شامليدل پکار دی

د پارليمانونو ترمېنځه او د پارليمان غړيو ترمېنځه نزدې رابطې کولې شی د هېوادونو د حکومتونو او خلقو ترمېنځه بې باوری کمه کړی او د اعتماد فضا برابره کړی-

د پاکستان او افغانستان پارليمانونو کښې د معاشرې د هرې طبقے نمائندګی شته که هغه د زنانه غړيو په شکل کښې ، مذهبی علماء ، اقليتونه ، پخوانی جهاديان او عسکری قوماندان ولې نه وی – دوی کولې شی د هېوادونو ترمېنځه ئې چې کومې خبرې د جګړې سبب ګرځی پرې خبرې وکړی – د دې تر څنګ يو شمير د افغان پارليمان غړی داسې دی چې د کډوالو په حيث ئې پاکستان کښې ژوند کړے او د پاکستان سره مينه هم لری-

د ډيورنډ کرښې ، د پولې امنيت ، قاچاق او د پولې له بل اړخ نه مداخلت په رنګې معاملې د پارليمان کميټیٔ کولې شی د خبرو

اترو ميز ته راوړی او په سپين نيتۍ سره پرې کار وکړی

د ډيورنډ کرښې معامله – اګر چې دا معامله د دوادو هېوادونو ترمېنځه د مذاکراتو ميز ته نه ده راوړلې شوې ولې ښکاری داسې لکه چې د پاکستان او افغانستان ترمېنځه د مسئلو مور وی-

پاکستان او افغانستان دواړه په دې پوهه دی چې د دې مسئلې چيړلو سره به د کرښې دواړه اړخونو ته بې شميره سماجی او سياسی بدلونونه راشی ليکن يو هېواد هم د سياسی حساسيت بلکې دې ته نه دی تيار چې پرې بحث وکړی-

کۀ چرې برطانيې دا معامله د څو لسيزو لپاره يو خوا ته کولے شوه نو پاکستان او افغانستان ئې د پولې دواړو اړخ ته د وولسونو خواهشات په پام کښې د نيولو سره هم په ښه شان هوارولے شی-

پېنځويشت زره خلق روزانه بغير د څۀ سفری دستاويزاتو د طورخم نه تيريږی – دغه رنګې د دې شميرې نه سېوا خلق د پېنځلس سوه کلوميټره اوږدې کرښې نه تيريږی

پارليمانی غړيو له په دې معامله کار کول پکار دی چې د پولې بل اړخ ته اوړيدل ولې نه د تجارت په شکل کښې وکړے شی چې ورسره به د پولې خيرمه قبائلو ژوند هم ښه شی-

د روزګار او سرمايه کاری مواقع به ورسره هم ترلاسه شی-

د ډيورنډ کرښې ته د يو بارډر په حيث نه بلکې د يو نرم بارډر يعنی چې مفت تجارت پرې کيږی او د قبائلو تګ راتګ وی د دې سره به د ډيورنډ د کرښې طبعی اهميت ختم شی او پاکستان افغانستان به د پولې دلارې مداخلت د منشياتو قاچاق ته توجه ولری-

افغانستان د يو لينډ لاک هېواد په حيث د درآمداتو او برآمداتو لړ کښې د پاکستان په لارو ډير انحصار لری او دې لړ کښې پاک افغان ټرانزټ ټريډ لوظنامه هم لری – ولې کله د دواړو هېوادونو اړيکې پېچده کيدو سره تاجرانو ته زيان واوړی او کله د تاجرانو ټولنې ترمېنځه بې باوری هم د حکومتونو د چارواکو د رابطو قطع کولو سبب وګرځی-

که چرې د بې باورۍ مسئله حل کړے شوه نو د پاکستان او افغانستان ترمېنځه چې کوم نورې معاملې دی د هغې هواری به هم مشکل نه وی – خو دا هله کيدے شی چې د دواړو هېوادونو پارليمانی غړيو له يو بل سره نزدې او په مسلسل ډول رابطې ولری تر څو په ميډيا او سوشل ميډيا د پاکستان مخالف او افغانستان مخالف منفی پروپېګنډے مخه ونيسی-

## راتلونکی کتنه

د پاکستان او افغانستان سره د امن او استحکام لپاره د کار کولو نه علاوه بله څۀ لاره نشته

اسلام آباد او کابل به ډیر زر ومنی چې د دواړو هېوادونو خلق نه صرف شریکه جغرافیه ، تاریخ، شریکه اورده پوله او شریک نسلونه لری بلکې شریک مقدار هم لری-

دا حقیقت هم په خلقو ښکاره شوے چې د جنګ په لسیزه کښې پاکستان ته چې کوم ځانی او مالی زیان اوړیدلے د افغان ورونړو خوئیندو نه کم نه دی-

د پاکستان نه علاوه افغانستان نور پینځه ګاونډی هېوادونه لری چې د افغانستان سره پولې لری لیکن د پاکستان نه علاوه کوم بل هېواد دې ته نه دې جوړ چې د افغانانو بوجهـ برداشت کړی-

د دولتونو او سیاسی قیادت په کچ تکلیفونو او مشکلاتو نه علاوه په نسل تاجک ، ازبک او هزاره مور پلار د شمالی برخې څخه خپل واړۀ د تاجکستان او ازبکستان پر ځائې د پاکستان اسپتالونو ته راوړی-

د افغانستان او پاکستان ترمېنځه د پولې په هر یو تلونکې لاره چې اودریږی نو پته ولګی چې په زرګونو خلق د پولې بل اړخ ته بغیر د څۀ سفری دستاویزاتو سفرونه کوی-

کۀ د پولې دواړه اړخ ته خلقو ته مختلف قسمه ګوابنونه شتون لری نو په دغه حساب ورته مواقع هم شته او د دواړو هېوادونو د سیاسی قیادت فرض جوړیږی چې د جنګونو په ځائې له یو بل سره همکاری تر ځنګ دغه ګوابنونه په مواقعو کښې بدل کړی-

کال دوه زره دیارلس به د مواقعو لپاره قیمتی کال وی ولې د کابل او اسلام آباد لپاره د نړیوال جنګی پوځ د افغانستان نه د وتو نه وړاندې صورتحال یو لوئے چېلنج به هم وی – بس ضرورت د دې خبرې دے چې د دواړو هېوادونو وولسونه د ترهه ګرئ او جنګونو نه واړولے شی او د منطقې په امنیت باثباتی او خوشحالئ کښې خپله برخه ولری-

کال دوه زره څوارلس د افغانستان او افغانانو لپاره د بدلون کال دے – یا خو به په حقیقی معنی کښې جمهوریت وده ومومی او یو خپل جوړ کړے شوے حکومت به د افغانانو د ووټ په نتیجه کښې په دریم ځل د ملک مشر وولری – هم د دې کال کښې به نړیوال پوځونه افغان ملی اُردو ته د هېواد امنیتی واک ورکوی او انخلاء به کوی-

پاکستان او افغانستان له به په سپین نیتئ سره له یو بل سره همکاری کښې پهل وکړی او د جنګ پر ځائې امن مذاکراتو ته چمتو والے وښائی چې دا رنګې دریم ګړی ته پکښې هډو ضرورت پېښ نشی-

دواړو هېوادونو له به یو داسې ماحول پېدا کول وی چې کله د کال دوه زره څوارلس ورستو نړیوال پوځونه له افغانستان څخه ووځی دغه حالاتو کښې افغان ملی اُردو به د افغان طالبانو سره نه جنګیړی بلکې دوباره آبادکاری ، بیا ودانی کارونو کښې به د سول انتظامیې مرستې کوی-

خبرې ډیر او سر ئې یو – کابل او اسلام آباد ته به د یو بل د مشکلاتو ، مسئلو احساس او ادراک کول وی ، په کهولاؤ ذهنونو سره چې دواړه هېوادونه د مسئلو فهرستونو له یو بل سره شریک کړی-

ترجیحی بنیادونو دواړه ملکونو له په هغه مسئلو چې په فوری ډول حل غواړی لکه د پولې بل اړخ نه مداخلت ، د ترهه ګرو پناه ځایونه او د پولې بل اړخ ته تربیتی کیمپونه –

پاکستان افغانستان له مطئمن کول پکار دی ولې چې کابل شک کوی اسلام آباد د طالبانو وسله والو مرسته کوی او هم دې په نتیجه کښې په کابل کښې د هند اثر رسوخ سپوا کیږی-

افغانانو له په سپین نیتی د پاکستان د مذهبی وسله والو او د بلوچ باغیانو په معامله تحفظاتو ته کتل پکار دی څوک چې د افغانستان د خاورې نه په پاکستان کښې حملې کوی او په کابل کښې د هند اثر رسوخ هم پاکستان د خپل مغربی پولې لپاره فکرمند کوی-

پاکستان غواړی چې د افغانستان سره ستراتیجکی پارټنرشپ لوظنامه ولری کومه چې کابل د پاکستان روایتی حریف هند سره د وړاندې نه لاس لیک کړېده – پاکستان او افغانستان له ستراتیجکی پارټنرشپ لوظنامه باندې په ترجیحاتی بینادونو فکر کول پکار دی تر څو د دې فلیټ فام دلارې له یو بل سره په شخړو تهوس خبرې وکړی او ورته حل را اوباسی-

یو خبره په ذهن کښې ساتل پکار دی هغه دا چې کۀ زر ده او که پس کال دوه زره څوارلس د پاکستان او افغانستان لپاره د حتمی پریکړو کال دے – د وسله والو او باغیانو پر ضد په ګډه کار پکار دے نه چې په پټو په یو بل تورونو لګولو ته دوام ورکړی



پلڈاٹ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف
لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ
اینڈ ٹرانسپیرینسی


ہیڈ آفس: نمبر 7، 9th ایونیو، F-8/1 اسلام آباد، پاکستان
لاہور آفس: 45-اے سیکٹر 20 سیکنڈ فلور فیز III کمرشل ایریا، ڈیفنس ہاؤسنگ اتھارٹی، لاہور
ٹیلیفون: 345-123-111 (92-51+) فیکس: 3078-226 (92-51+)
E-mail: info@pildt.org; Web: www.pildat.org